د پیشرو خپرونه ۴۴ گڼه

مراد پرتم


۰۷جولای ۲۰۱۲

# کله چې د يو مبارز زړه ودريد

نن د داسي چا ياد تازه کوو چې د ميني، ايثار او سربندني بيلگه وه، د هغه چا ياد ژوندی ساتو چې په خپل ايمان، کلکې ارادې او وجداني غږ سره، د تيارو په وړاندې ودريد، د ټولني او خلکو د ژوند په سرگردانه او لالهانده شيبو کې يې د داد آواز اوچت کړ او د نيکمرغه ژوند په لورې لاره يې چې د رڼايي او نورانيت لاره ده، لا نوراني کړه.

د ظلم، استبداد او ځانځاني تورو وريځو له ډيرو کلونو راهيسي زموږ د ځورول شوي ولس ژوند د بدمرغيو او ناخوالو په لومو کې را ايسار کړی دی، په داسي يو فضا او حالت کې به د گوتو په شمير سربښندونکي وي چې په خپل قلم او قدم سره د دغو تورو لړو په وړاندې ودريږي. د دغو سربښندونکو له شمير څخه يو هم زموږ د ټولني او خلکو زړه سوانده مبارز داد نوراني و چې نن يې د پرتمين او ثمر لرونکي ژوند د پای لومړنی تلین لمانځو، د هغه ياد تازه کوو او د هغه ياد ژوندی ساتو.

تاريخ ښودلې چې د ټولني او خلکو د نيکمرغۍ د لارې او د ظلم، وحشت او استبداد پر ضد د مبارزې د لارې مخکښان او لارويان د زيږيدو او مرگ نيته نه لري، هغوی تل ژوندي وي او ياد يې تلپاتی وي. د هغوی ژوند او ياد د هغوی په کارنامو، مقاومت، سپيڅلي عقيدې او کلک هوډ کې نغښتی وي، چې گران نوراني هم له همدې ډلې څخه دی.

د هغه د قلم ژبه، د هغه سياسي او ولسي تهور او د هغه وسپنيزه اراده، د هغه ياد دی، د هغه ماضي ده او د هغه راتلونکې. د تلياد داد نوراني د قلم تيره څوکه د ظلم، وحشت، استبداد، استعمار او جهالت پر ضد وه، د هغه د قلم خوږه ژبه په وينو کې د لمبيدلي وطن او ځورول شويو خلکو د دردونو او ارمانونو انعکاس و.

د تلياد نوراني ياد به له ظلم، استعمار، استبداد، تيارو او تيري څخه د خلکو د خلاصون او ژغورني او د بسياينې هنگامې لاگرمې کړي. د هغه د سپيڅلي وجدان غږ به د هيواد په کليو او بانډو، په غرونو او رغونو، دښتو او بيدياو کې لا انگازې وکړي.

د تلياد نوراني ياد دې تلپاتی وي!